سرلوڅ مرادزی
۰۹ / ۰۹ / ۲۰۱۸

# د مرکزي حکومت ملاتړ ملي دنده ده!

وایی، هغه ملت چې له خپل تاریخه بېخبره وي، د پېښو په بیا بیا تکرار محکوم دی. افغانانو ته نه ښای د جهادي تنظیمونو د نوییمې لسیزې ناورین یو ځل بیا پر ځان تکرار کړي.
افغاني ټولني په ۹۰ یمو کلونو کې د مرکزي حکومت تشه لېدلي او ډیری هغه کسان چې په نوموړې لسیزه کې یي د واک په بېلا بېلو ټاپوګانو کې په اصطلاح مشري کوله، نن هم ژوندي او په یوه یا بله بڼه د مرکزي حکومت په وړاندې د واک د ټاپوګانو د ادامې لوبه جاري ساتي!
د مرکزي حکومت په پاشل کېدو سره، په نوییمه لسیزه کې افغانانو د هېواد پلازمېنه کابل او نور ولایاتونه ولېدل چې ښکګه یو په بل پسې ورژېدل او ونړېدل. کابلښار ښکګه د پیریانو په کور او کنډواله بدل شو او ۷۰ زره کابلیان ښکګه د دښمنو تنظیمونو په جګړو کې له تیغه تېرشول. په دې لسیزه کې کابلیانو د خپلو بچیانو د نیمژواندو مړو نڅا او ګډاوې ننداره کړي. له ښځو او نجونو سینې غوڅې شوې او د خلکو عزت او ناموسونه برباد شول. د کابل په ګډون د هېواد ټول ښارونه، کلي، باندې او درې له وګړو او ولسونو تشې شوې. په دې پیر کې د افغاني کډوالو چوپې ګاونډیانو، اروپا او د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورشېوه شوې او پر کډوالو یو داسې دردوونکی ناورین راغی چې شلمې او یوویشتمې پېړۍ یی بل چیری بېلګه نه وه لېدلې!
دا ناورین په پراخه کچه د نړیوالو رسنیو تر چتر لاندې هم راغی او د دنیا عرب او عجم ټول پرې خبر شول!
د مرکزي واک دا رامنځته شوې تشه، په نوي یمو کلونو سربېره، دوه لسیزې وروسته نن لا هم نه ده ډکه شوې او د هغه د ډکون لپاره په کور دننه د مرکزي حکومت پلویان او ساتندویان او بلخوا د انارشیزم، ګډوډۍ او د واک ټاپوګانو د ساتنې لارویان په شخړه او سخته بوخسه کې سره ښکېل دي.
همداشان ښېخي طبیعي ده کله چې یو هېواد کې د واک تشه رامنځته شي او هلته مرکزي حکومت وپاشل شي، د ډکولو لپاره یي ګاونډیان او لیري پراته هېوادونه هم د خپلو ګټو په پار په سیالۍ سره ورګېوځي.
په داسې حالاتو کې د مرکزي حکومت پلوي ځواکونه اړ دي یوخوا په کور دننه د انارشیستانو، تجزیه غوښتونکو او د واک ټاپوګانو د پلویانو سره په شخړه بوخت پاتې شي او بلخوا د هغه ګاونډیانو سره چې د کورني تجزیه غوښتونکو په مرسته غواړی د ځان په ګټه د واک تشه ډکه کړي او د مرکزي حکومت د پیاوړتیا مخه ډب کړي، په وړاندې ودرېږي.
له بده مرغه افغانستان چې څو لسیزې په داسې یوه ورته حالت کې ښکېل دی، طبیعي ده چې د ځان د بقا په موخه او د مرکزي حکومت د بیا احیا په مټ باید له دې بدې ورځې او شنې غدۍ راووځي، نو ځکه د مرکزي حکومت او نظام ملاتړ او بسیا د ملي ګټو او ملي دندو په سر کې ځای نیسي!
د هېواد ملي ګټې او ارزښتونه پراخ او بډای مفهوم دی چې له هغو څخه هېواد کې د مرکزي حکومت ټینګښت او غښتلتیا؛ د جګړې بندښت، امنیت او ثبات؛ د هېواد خپلواکي او ازادي؛ د افغانانو ترمنځ د یووالی او پیوستون د پیاوړتیا هڅې؛ یو موټي او متحد افغانستان؛ د افغانانو ملي حاکمیت، ولسواکي او د افغانانو سوکالي، د اساسي قانون پلیتوب ته ژمنتیا، ملي ژبه او داسې نور ملي ارزښتونه مهم شمېرل کیږي.
د ملي ګټو په ټولګه کې ځینې ګټې د حالاتو او مهال سره په تړاو، لومړیتوب مومي او ځینې نورې بل وخت د ارزښت له مخې له نورو لومړی کیږي.
نن، سبا مرکزي ملي حکومت او نظام، د نورو ملي ارزښتونو په سر سر کې راځي او که هغه بسیا شي د نورو ټولو ملي ګټو او ارزښتونو په ساتلو او خوندیتوب کې لویه مرسته کوي.
همدا لامل دی چې د افغانستان د بقا او پرمختیا مخالفین او دښمنان، تر هر څه مخکې مرکزي حکومت په نښه کوي او د هغه د جوړېدا او پیاوړتیا مخ نیسي.
دا چې څو ورځې وړاندې، ماسکو هڅه کوله د افغان مرکزي حکومت د مالکیت او مشرۍ پرته، طالبانو سره د سولې په نوم غونډه جوړه کړي او د هغې واک او مشري بل څوک وچلوي، حقیقت کې داسې چلند د افغان حکومت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

د سپکاوۍ او کمزورۍ په موخه په پام کې نیول شوي وو چې له نيکه مرغه د ولسمشر غني د پرځای تدبير او اقدام په برکت، په وړ وخت شنډ شو!
همداراز دا چې د پاکستان د بهرنيو چارو تازه ټاکل شوی وزير، شا محمود قريشي په بېشرمۍ وايي پاکستان، په افغانستان کې د هند هيڅ راز اغيز نه شي منلای، په ښکاره د افغانانو ملي حاکميت ګواښي او له هغه ځايه چې مرکزي حکومت کمزورۍ ساتل شوی، پاکستاني او ايراني چارواکي وخت ناوخت پر افغان ملت سترګې راباسي، د هېواد په کورنيو چارو کې لاسوهنه کوي او د ملي واکمنۍ په وړاندې نيابتي جګړه مخته وړي.
دلته به بېځايه نه وي چې د روسيې او پاکستان د دښمنۍ څلند پرځای د دوه نورو هېوادو وروستي چلند رایاد کړو:
وړمه ورځ د سيپټمبر په ۶ مه، په نوي ډيلي کې د پامپيو، متيس او د هند د دفاع او کورنيو چارو وزيرانو د خبرو په پای کې په ګډه اعلاميه کې ويل شوي« **دواړه هېوادونه د متحد، خپلواک، د ملي حاکميت خاوند، ولسواک، باثبات، سوکال او سوله يز افغانستان لپاره پرخپلو ژمنو ټينګار کوي، ټاند»**
البته موږ افغانان له روسيې، پاکستان، ايران او نورو هېوادو هم ورته چلند غواړو او دا زموږ حق دی.
دا چې وايي، سياست دايمي دوست او دښمن نه لري او هلته ملي ګټې تل په پام کې وي، له پورته ياد شويو دوه ډوله چلنده ښه څرګنديږي.
**په کور دننه د تک قومي حکومت، قبيلوي حکومت، د ارګ په لاس د محاصره او انحصاري حکومت تبليغ او ډنډوره هم د مرکزي حکومت د پياوړتيا مخنيوي ته په پام ترسره کيږي.** هغه کسان چې د اساسي قانون د منځپانګې خلاف ځانونه د پارلماني نظام، نا متمرکز نظام او يا داسې نورو بوللو تر څتر لاندې پټوي، غواړي له دې لارې هېواد کې روان بحران جاري وساتي او يا د بل داسې بحران لپاره تياری نيسي چې پايله يې خپله او د هېواد بربادۍ پرته، بل څه نه شي کېدای.
د مرکزي حکومت څخه په تېښته او ياغي ځواکونو سر کې دا مهال«د ژغورنې لويه ټلواله» ځای لري. دوی درست لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، مرکزي حکومت او نظام او همدارنګه اساسي قانون په نښنه کوي او خپل ملي ضد پروګرام کې ورته داسې ګوزار ورکوي، لکه يوه اعلاميه کې چې ليکي«هر چند بحث تغيير نظام سياسی در دوره حکومت کرزی مطرح شده است؛ اما با توجه به تجربه حکومت وحدت ملی اين جريان معتقد است نظام رياستی موجب استبداد سياسی و ديکتاتوری ميشود. بنابر اين ائتلاف بزرگ سياسی در پی تغيير نظام سياسی رياستی به نظام غير متمرکز و سيستم پارلمانی، تعديل قانون اساسی، مشخص شدن اختيارات و صلاحيت ها، توزيع مناسب تر قدرت سياسی وپايان انحصار ګرايی هست. اريايي بريښناپاڼه»
دغه ټلواله چې د ملي يووالي حکومت کې پنځوس سلنه واک لري او حکومت يې د همدې ونډې په لامل له پښو غورځولی، غواړي د «مشخص شدن اختيارات و صلاحيت ها، توزيع مناسب تر قدرت سياسی و پايان انحصارګری» د نوموړي حکومت د واک پاتې نيمايي برخه هم د ځان کړي او د نامتمرکز نظام په تېرييستونکو ژمنو هېواد کې نيمګړی نظم هم برهم کړي، بيرته نوييمې خپلې بدنامې لسيزې ته ور وګرځي او له سره يو ځل بيا کورنۍ جګړه او وروسته د موقت حکومت، انتقالي حکومت او يا عنعنوي لويې جرګې تجربې تکرار کړي او لا هم د داسې غوښتنو په بيا بيا تکرار سره هېواد او ملت برمته وساتي!
دا به څونه د شرم ځای وي چې د څو لسيزو په تجربو سره، بيا هم افغانان د دغه خبيثې کړۍ تېر چلند هېر کړي او د دوی په تېرييستونکو وړانديزونو وغوليږي!

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ